# هیلي ماتي

## انتخاب شوي ټپي او بیتونه



Ketabton.com

راټولوونکي: وسیم افغان



-Wasim Afghan
-Wasim Afghan
-Wasim Afghan

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالی

## ګران او زړه ته رانژدې ملګري (حاجي خـــــــــاموش) ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبښه ته مې په تمامـه مــــــــانـا نه پېژندې
وبښه نور درته ټول ژوند مزاحمت نه کوم

زه دجانان هر يو غزل هر بيت ته ببله ژاړم
په ما خو دومره ميئن ندی غزل چاته ليکي؟

رقيب مــې هېر شــــو ترهګرو ته ښېرې کومه
لا مــاښام نه وي چې زما دلالي ور پــــورې شي

دنغمو نغمو سندرو په وطن کـې
ويده کيږو او پاڅيږو په سلګيو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوریدو ته یې ته نه راځې همرازې
او رازونه مې په زړه کې نه ځایږي

څه وایې تا به راتـــــه نه را کوي؟
ورته پېنځه وخته سجده کې نه یم؟

څومره زر زر دې فاصلو ته کړه هواره لاره
په دعاگانو مې ورو ورو زیاتیږي شک لالیه

قسم خدایه چې ما به دستا لوري ته کتل
په ژوند به مې ملنډې زمانې وهلې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوله ورځ یې دخپل ځان تماشه وکړه
زړه د ډکې ښاریې منځ کې ولاړ دی

نه مې فنا شته نه واپس راځمه
ستا په صحرا تللی آواز یمه زه

په تا خـــوښې په ما دغم باران
څه بهترین وېش مهربان کړی دی

پوهېدې چې مینه ټوکه وه له سره
ها چې ټوکه وه په ما دې ولې وکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څومره ارمانونه به مې خاورې شې
سولــې! که له تانه مخکې مړ شومه

نوره پرېږده ان په ځان مې پېرزو نه يې
رقيب کړې دې د ځان يم دومره پوی يم

ستا د ياد په تار يی تړم
ژوند ساعت دي که لمحه ده

که تا  وويل په خاورو ځان بدل کړه
ته چې ســــترګې  رپوې زه به بدل يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سرې راته مهم دي گـنـــــي ژونده!
داسې نه ده چې مې ته په اوږو بار يې

زما په مـخ حـالاتو ښې کرښـې را تېرې راکـړې
ای های ژوند څـــه کوئ په مـا يې نقاشي وکړه.

که په مخه چيرته راغلې
درته به يو ميليون گيلي وکړمه

مشـغولا لره يې راشـه د يار خياله
زړه مې ستړی او ستومانه غوندې ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په سبب کړي رقابت ورسره
ټوله دنیا ده په حمزه مئینه

شیبه مخکې دې له مرګه سوله راشي
خیر که پاتې مو ځواني نده ملګرو!

نه غواړې؟ما پرېږده وینې هغه دروازه ده
نه اوسېږې؟ مه اوسېږه ظلم دی کوه یې.!!

پوره به چرته نه شي نامُمکنه راته ښکارې
آخستی می څو ځله اندازه د خپل آرمان ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ديدن ته زورور نصيب پكار دى
سلامونه په چپو دهوا هم ځي.

زېړېدو ته خو مې ګورې؟
زما رنګ ته خو دې پام دى!!؟

كه د شيدو لښتى ور تير كړم
تا دردولى زړه مې وده نه كوينه!

دا قسمتونو فيصلې دي
دزړه په خوښۀ ياران چا موندلي دينۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل ښایست نه ناخبرې کبرجنې جینی
په ټول کابل به زلزله کړې اوربل مه خوروه

طبیب دې خپلې ګولی یوسې
خط د جانان له لورې راغی جوړه شومه

پښتنه پــیغله شیرنه
هم پښتو پالی هم مینه

د طــلاي زلفــو میرمنې
ګردې لــمنې جوړوه غلام دې یمه..!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د زړه سلا رانغله
مئين ته وايئ چې نور نکړي منتونه

"ستا تګ او راتګ هسې فلسفه ده؛ ته د زړه په کور
کې روح سره يو ځای يې...!"

بيا رانه د ژوند بازار کې ورک نه شي
خپل زړه مې د ګـــوتې نه نيـولی دی

ژوند يو جبر دی يو ظلم دی زغمه يې
نه د تيښتې اجازه شته نه د مړينې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا زما له درده اوښکې تویولې
څه ښه ټوکه وه خو سمه دې ونکړه

ستا ده حساب بیخي قابل نه یمه
زه درنه ربه لېونتوب غواړمه

"سل وارې مې وویل چې زړه مې یې
بس ده نوسجـــــــــــــــده راباندې مکوه"

ته بختور ئې سوداګره
چې ملغلرې خرڅوې شمېرې خالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخو ویل گني پښتون یې
له بې ننګي نه دي زه څه خبره ومه

یاران ولې هر څه ګپ ګڼي ازله
په دیرشمې سپارې پسې خراب یم

ته رانه لاړې غم دې راکړو
بیا چې راځې، زه به د خاورو لاندې یمه

له اول نه څوک مه ماتوه!
ښه غوښتل زخمونه نه شي جوړولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو خوا د ژوند کارونه، بل خوا شاعري، او مینه
ښکاري چې ژوند کې مې بلا ضرورتونه ډېر شول؟

اوس په لمانځه کې غلطېږم
د بنګړو شرنګ یې تر جومات پورې راځینه

زهٔ لږ د حساس طبیعت سړے یمه
تهٔ راسره ډیره ګزاره کوه

په میسج پیل او دبلاک په تنۍ پای ومومي
څه په اسانه باندې ختمې شي د وخت یارانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شونډې مې تاپسې وچيږي
خلکو ته وايم ثوابي روژه لرمه

يو ځلې چې مات شي بيا جوړيږي نه
زړه لکه بنګړی داسې نازک جوړ دی

زړه که مې تانه صبرېدلې
ته به ولاړ وی زه به بل ته وديدمه

زه په سودا کې او په ما کې سودا هم ګرځېده
په داسې ځمکه ګرځېدم، چې په ما هم ګرځېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبر کوه خدای بهٔ مې درکړي
توره پگړی اوښکو ته مه نیسه مَینه

په مخ دې بیا څپېړه راکړه
په سترګو ړوند شې پیغلې چا وهلې دینه

رازونه چاته نه وایم رازونه محترم دي
رازونه خو لوظونه دي لوظونه محترم دي

په پرده کښې د کعبې په شانتې ښکارې
پښتنې ستا په څادر کې لوې کمال دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسوېلو مې غزونو ته ځان جوړ کړ
زړه په دواړه لاسه ونیسه ماښام شو

ځان ته ناسته ، خاموشي، لړي خبري،
دایو څـو انتـخابونه مي سـهي دي

رښتیا خو دا دي چې باور دربانديې نه دی په کار
خو زه له شرمه په تا کړی باور وستایمه

سر مې نرى نرى خوږېږي
زه دې ښېرو لکه چې بیا وهلې یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما پۀ کبر زوال راغی
ماته د غیږې جانان لاس نۀ راکوینه

کبر، غرور، ظلم، زیاتی او له انسانه نفرت!
په دې پنځو واړو کې شکر ده یو هم نه لرم

ته یې نوم اخله زه درود وربانديې وایم
د جانان په نوم کې بل رنګه مـــزه ده.

نۀ مې ګیله شته نۀ لۀ چا یمه خپه مات یمه ،
د زور دې نه یم خدای ته وګوره راځـه مات یمه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو روح او دوه کسانو تړون ویني؟
ساه ته اخلې! ضـرورت ورته زما دی...!

قســـــم وکــه دروغ وکــه تعویذ وکــه خــو وکــه
تکړه شه ملا هله په چل ول سړی رضا که....؟

که دې خوښه وي ما مه غږوه یاره!
زه رښـتیا وایم او تـه بیا خفه کیږي.

ما مې له خپله وروره جار کړې
لالی مې خپله خور لرې ترې جار دې شینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خویندي د ورور له کوره څه وړي
خواره زلفان په اوږو وړي په ژړا ځینه

بې وروره خور په کلي راغله
ناری یې وکړه چې د چا کره به ځمه

مونږ خو ازغي کرلي نه دي
قرآن وهلې لالی ولی نه راځینه

په اننګو دې زخې وشه
چې د ښائست جلوې دې دړې وړې شینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یــو څــو کسو لــه قصده یی نــن وایم
د یو څــو کسو لــه قصده دې قــربان شم

د مینی خیال د تهمتونو په باران اخلمه
که دنیا دوه ډلی شوه ډله د جانان اخلمه

د آشنا داړ دې را سره وي
کۀ د نمرود د اور لمبې وي، پرې ورځمه

ستا خبرې مې دي خوښي موسیقې ده.
زما جــنــابــه! زه به چـــپ شم ته غــږیږه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو حیا مې شکر دی جوړه سترګو ته راغلل
ســـیلۍ چـــې لـــوپټــــه دې راته ګډه وډه کړه

نه مې څه یې، نه مې څه کېږې
ناز دې په هغو خلکو کړه چې څه دې وینه!!

که د لالي سترګي مې نه واي!
چېرته خندا چېرته زمونږ چاودلي زړونه

چمبه زما ګوتو ته جوړه
زما د یار ګوتو ته جوړ دي کتابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانانه بل وطن ته مه ځه
د غوږ والی به ستا خرچې ته خرڅومه

مور دې د کور کارونه غواړي
تا رانه غواړي په نکریزو سره لاسونه

د بنګړو په شرنګ سجده شوه سندریزه
موسیقي یې کړه حلاله په لمانځه کې

په زور دې کړي شم داسي نه دو
رټه پښتو دو له پیغوره غلي یمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تا زما زړه ته کتلی
زه به دا وچې شونډې ولې ګرځېدمه

سترګې مې ستا ده سترګو غاټې.
د رنجو ډکې تا به ورک له کلي کړمه

دا حق نه دی بر ناحقه مروره
زوروره! څه خبره ؟ څه اتره؟

ماته مې خپل لالي را پرېږدئ
نور مې په مړي ژوندي وشړی مئينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما لوفر لالي خبر کړئ
جرگه راغلي ما نن بل ته ورکوېنه

د خولې اظهار ته پکې څه ضرورت
هر څوک د خپل مئېن کاته پېژني

ته له بې ننگه خاورو جوړ يې.
گني سړي خو خپل غيرت خوړلې دينه.

اوس که راځې وختونه تير دي
زما په مخ خالونه اوښکو وړي دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کلي تللی یار ته وایه
د بیوسی غږ به مې څوک درسوینه

بې غرضه بې مطلبه بې له ګټې
بیخي نه پالي رښتینې رابطې څوک

باران وریږی ته رانغلې
زه د بلی لاندې لمده ولاړه یمه

پلار یې د کلي فیصلې کړي
لور یې په برګو سترګو کلي ړنګه وینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای بهٔ د سختو دوران تېر کړي
وړه نونو بهٔ مې رالویه شي مَینه

شپه به د مینې په کیسو تیروو
نـــــورې خبرې به سهار کېږي

خلک په کرکو نه شرمېږي
زه به د مینې کیسې ولې پټوومه

د کور بامونه ټول په تا پاکوي
واوره" وریږي، زما زړه خوږېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو انار دی په هغه پسې اقباله
په سلګونو بیماران ماته معلوم دي

هسې عبث عمر مې تېر کړ
لکه رېدي پهٔ بیابان ورژېدمه

ما ته چا هیڅ ویلي نه دې
دا ستا پېغور یې راکوه وژړیدمه

ژوندون په مینه ښکلـــــــــې کېږي
په شر فساد باندې ورانېږي وطنونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســتا نامه ور باندې لیکمه پۀ ګوتو
د کړکۍ ښیښې نیولې بیا خوَله ده!

د خوږو خوږو کتلو دې مننه
معلومېږي چې جانان شولې سرېـه

زه د ملا سره نزدی په میکده کې اوسم
زه دَ دوزخ سره نزدی د جــــــنتونو سرِی؟

داسې لمده ګودر نه راغله
لکه بلبله چې باران وهلې وینه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**